شیر محمدامیني ستانکزی

۲۰۱۷/۰۳/۲۸

# د دندې په لټه او په زندان وربرابریدل

میوند د اقتصاد له پوهنځي څخه فارغ او د څلورو کلو زده کړ اسناد یې ترلاسه کړي ؤ، میوند د پوهنتون د فارغت سره جوخت د دندې په لټه کې شو، دې غوښتل چې په خپل مسلک کې دنده ترلاسه کړي.
دی به سهار چې له کوره اسنادونه یې په لاس کې ؤ؛ وتل او ماښام به بیرته کورته راتلل. ورځې، اونۍ او میاشتې میوند د دندې په لټه کې تیرې کړې، ولې په دې بریالی نشو، چې دنده واخلي، ځکه هرې ادارې او دفتر ته به چې ورننوت دبست او دندې د اعلان پوښتنه به یې کوله، په ډیرو ادارو کې خو بیخي دندې نه وې اعلان شوې او په ډیرو کمو دفترونو کې که دندې اعلان شوي هم وې، دغه بست ته به په لسګونو تنه ځوانان چې د پوهنتون څخه فارغ شوي ؤ ځانونه یې ورته نومول، خو میوند نه یې واسطه وه او نه کوم نفر پیژندل .
له ورځو نه یو ورځ میوند له ځان سره سوچ وکړ، چې څنګه او له کومې لارې ځان هدف ته یانې دنده ترلاسه کړي، کله به یې ویل، چې یوه غټه واسطه کوم ځای کې وګوري، بیا به یې د پیسو د ورکولو فکر ورسره ؤ،ولې سوچونو یې کومه پایله نه ورکوله او ډیر مایوس شو،آخرنۍ پریکړه یې دا وه او ځان سره وویل، چې راځه دهیواد پریښودل یواځنۍ لاره ده، چې سړی کولی شي، هلته هم پیسې وګټي او هم ځان په کارونو بسیا کړي. خو میوند په دې د باران څخه ناوې لاندې ودریده.
ده له ځان سره دو تنه نور ملګري، چې د دندې د پیدا کولو پرمهال ستومان او لالهانده ګرځیدل، خپله طرحه یې ورته وړاندې کړه، هغوی هم ورسره موافقه وکړه او دوی د خپلو کورنیو مشرانو په مشوره مخ پر بهر روان شول.
د پولي (سرحد) له تیریدو څخه دغه ځوانان د پولیسو لخوا ونیول شول. میوند او ملګرو یې پولیسو ته وویل، چې د خدای روی ته وګورئ، موږ په هیواد کې ۱۶ کاله زده کړې کړي، له مجبوریته ستاسو هیواد راغلي یو، چې دلته کار وکړو او یوه مړۍ حلاله روزي پیدا کړو.
پولیسو په کړس کړس ورته وخندل چې زموږ د هیواد قانون د نورو هیوادونو قانون سره توپیر کوي، تاسو موږ ته مجرم یاستئ، ځکه چې په غیر قانوني زموږ هیواد ته را غلي یاستئ. د میوند او د دواړه ملګرو په لاسونو کې ولچکې واچول شوې او مخامخ د زندان تورې کوټې ته وغورځول شول.
میوند چې شاو خوا کتل ګوري په زندان کې په سلګونه افغان ځوانان بندیان دي، دوی سره پیژندګلوی کوي او د راتګ ټولې کیسې ورته بیانوي، چې دوی هم د میوند په شان د بیکارۍ له امله دلته د زندان ښکار شوي دي.
میوند له ژور سوچ ورسته وویل، چې ای کاش زموږ په هیواد کې تل پاتې سوله شتون درلودی، په اداري فساداو قاچاق زموږ دهیواد نوم ښکیل نه وای. ځوانانو د زده کړو د ترلاسه کولو وروسته دولت ورته د کار کولو چانس په نظر کې نیولی.
دا ولې؟ نن موږ په سلګونه تنه ځوانان په دغه کرغیړن او ورته نورو زندانونو کې شپې او ورځې سبا کوو. ولې او دڅه لپاره ؟ موږ خپلې ککرۍ خاورې او زده کړې په خپل هیواد کې کوو او بیا یې په پردۍ خاوره کې هغه هم د زندانونو په تورو کوټو کې عبث تیره ؤ. فکري وړتیا د خپل هیواد په خاوره کې نشو کارولی، نو همدا لامل دی، چې زموږ هیواد شاته پاتی دی. اې کاش چې زموږ مشران پوهیدلی اوزموږ له حاله خبر وای، نن به ولې په موږ داسې ورځې راتلې.
په دې توګه ورځې او شپې تیرې شوې، خو د دغو خوارو زندانیانو چاه آه هم نه جګول او د هیواد مشران یې هم په کیسه کې نه ؤ. ولې په بیچاره کورنۍ یې چې هره شیبې تیریدلې د زړنو نه یې یو الله خبر ؤ، خو د دوی له وسه څه لاسته نه راتلل، چې د میوند او نورو ملګرو د خلاصون لپاره هلې ځلې وکړي.
میوند په زندان کې ډیر ځوریدل تمام ورځ په دې فکر کې ؤ، چې د کور وضعیت به څنګه وي، دې ته چې پلار یې د پوهنتون لګښت په پور برابرول د سوچونو ښکار شوی ؤ، ګډوډ ذهني سوچونه د دې په ذهن کې خطور کا ؤ، ډیر فکر چې میوند وړی ؤ د پور د پیسوخلاصول ؤ، ځکه خو میوند اوملګر ي یې مجبوري دې ته اړ ویستل، چې **د دندې په لټه کې ؤ، خو په پردې زندان وربرابر شول.**

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ